د کانونو او پټرولیم وزارت
د جیولوجي سروې معینیت
د جیولوجیکي معلوماتو د مدیریت عمومي ریاست
د جیولوجیکي راپورونو د لنډیز آمریت

# د بادغیس ولایت د لامان سرخ کمر سیمې سلستین



## موقعیت:

د لامان سرخ کمر سیمه د بادغیس ولایت د قلعه نو مرکز سویل - لویدیځ ته په ۲۰ کیلومترۍ کې البته د لامان بازار لویدیځ لوري ته په لوړه نقطه کې ځای لري




## د سیمې جیولوجي:

په دغې سیمه کې د کاربناتي ډبرو طبقې په نورمال حالت کې د ۲۰ مترو په پنډوالي سره د غونډۍ په لوړو برخو کې د فرسایش عواملو په واسطه پرې کړل شوی دی او د دغو طبقو د درزونو او کیندنو په دننه کې د کلسیت منرالونه د (راف کلسیت) په ډول له سلستین (SrSO٤) منرال سره یو ځای منځته راغلي دي چې تقریباً یو او بل سره ورته والی لري خو کولای شو چې د رنګ او ځینو کیمیاوي عکس العملونو په واسطه یو له بله سره یې توپیر وپیژنو. نظر هغو نمونو ته چې د ځایي خلکو له خوا د لامان دَرې له بیلا بیلو ځایونو څخه را ټولې شوې وې د لامان دَرې په ځو نقطو کې د سلستین منرالونو موجودیت په ډاګه کړی دی چې پلټنې (تفحص) ته یکې اړتیا محسوسیږي

## ټولنیز او چاپیریالي معلومات:

ځایي خلک یې زیاتره په مالدارۍ او کرهنې باندې بوخت دي چې له دې لیارې خپل ژوند مخته وړي. په هغو کلونو کې چې د ورښت کچه لوړه وي نو د قناعت وړ حاصلات لاسته راوړي. ښاري ژوند پکې کم تر سترګو کیږي چې د خوراکي او لباسي توکو په را کړې ورکړې سره خپل ژوند مخته وړي.